زابل کتابتون ـ د اسد شپږویشتمه ۱۳۹۲

# د «افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان» پورتال د خپلواکۍ د ډګر فرهنګي اتل

تر ټولو لومړی د «افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان» پورتال پنځمه کلیزه د پورتال ټولو متصدیانو او قلمي مرستندویانو ته د زړه له کومې مبارکي وایو او هیله مندیو چې دا پورتال د تیر په شان راتلونکي کلونه په بریالیتوب او سرلوړي او ویاړ سره تر شا پریږدي او د خپلواکۍ د ډګر د یو فرهنګي اتل په شان په زړورتیا د ښکیلاك او ارتجاع په ضد هڅانده پاتې شي.

په داسې یو هیواد کې چې د امپریالیستانو په ښکیلاکمینه بدله شوی او امریکایي او ناټویي جنایتکاران د لاسپوڅي دولت او نورو جهادي، طالبي او خاینو ډلو سره هره ورځ بیوزله افغانان وژني او زمونږه مېنه یې په داسې یو دوزخ بدله کړی چې په کې هره ورځ افغانان ستي کیږي، د امپریالیستانو او د ګوډاګیانو او د انتحاري طالبانو او حزب اسلامي په وړاندې د انقلابي او ژمنو روڼ اندو رول تر هر وخت ډیر ښکاره کیږي او اړتیا ده چې روښاندي د ولسونو تر څنګ د ټولو خونړي امپریالیستانو او د هغوې د مریيانو په وړاندې ودریږي او خپله وطني او انقلابي دنده تر سره کړي.

د «افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان» پورتال د انقلابي روڼ اندو لپاره د یو فرهنګي ډګر په توګه خورا اهمیت لري. په دې فرهنګي ډګر کې استقلال پلوه او انقلابي وطنپاله روڼ اندي او مبارزین پنځه کاله کیږي چې د استقلال په ګټه او د یرغلګرانو په ضد مبارزه کوي. دا مبارزه چې فرهنګي مبارزه ده، زمونږ د وخت اړتیا ده. دا اړتیا په داسې حالت کې راڅرګندیږي چې په افغانستان کې زرګونه تربیونونه د تلویزیون، راډیو، ورځپاڼې، خبري آژانس او... په ګډون د ښکیلاك لپاره تبلیغ کوي او د خلکو د مقاومت په شنډولو بوخت دي.

په داسې یو حالت او وضعیت کې د پورتال کار ډیر ستر اهمیت لري او همدا دی چې «زابل کتابتون» د «پورتال» کار ته په درنه سترګه ګوري او د چلوونکو د لابریا او د دې ډګر د پیاوړتیا په هیله دی.

په درنښت

زابل کتابتون